كله چې بنده ناروغ يا مسافر شي، نو د هغه لپاره د هغه عمل سره برابر ثواب ليکل کيږي چې د اقامت او روغتيا په حالت کې يې کاوه

له ابو موسى الأشعري - رضي الله عنه - څخه روايت دى وايي چې : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "كله چې بنده ناروغ يا مسافر شي، نو د هغه لپاره د هغه عمل سره برابر ثواب ليكل كيږي چې د اقامت او روغتيا په حالت كې يې كاوه".

[صحيح دى] [بخاري روايت كړى دى]

رسول الله - صلى الله عليه وسلم - د الله تعالى د فضل او رحمت په اړه فرمايي: چې يو مسلمان كله د روغتيا او اقامت پر مهال نېک عمل تر سره كوي او بيا ورته عذر پيدا شي او ناروغ شي نو بيا يې نشي كولاى يا دا چې په سفر او يا كوم بل عذر ورڅخه مشغول شي، نو هغه ته پوره اجر ليكل كيږي، هومره چې د روغتيا او اقامت په حالت كې يې كاوه.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3553